عبدالغفور لېوال

۲۰۲۰/۱۱/۰۸

# نوره مو خوښه خپله

افغانانو!

د یوه جنګ و جهل ځپلي هېواد بېوزلي خلک یاست. پر فیسبوک و تویټر مو هره کلیمه لیکل ـ لوستل، مخامخ یا یوه مړی ډوډی راکموي او یا مو جیب راسکوندي.

نو،

* پرهغو بابولالو وخت مه ابته (ضایع) کوئ، چې ستاسو له ژوند سره مخامخ اړیکه نه لري، که نامخامخ یې لري هم، دا مو لومړیتوب نه دی.

** پر هغو سیاسي خبرو ځان مه ستومانه کوئ، چې په عمل کې یې په خپله ګټه بدلولای نه شئ.

*** په پردیو ودونو کې اتڼ مه کوئ او که تاسو ته خواږه نه درکوي، نو په پردیو خیراتونو کې نغري مه شمارئ، ځکه تاسو به د نورو د پولاوونو دیګي شمارئ، دلته به مو خپل تبیر وسوزي او بیګاه ته به نهر پاتي شئ.

**** هغه ولسونه، چې د خپل حالت بدلولو پرځای د نورو سیاسي چارې شاربي، تل د خپل برخلیک بدلولو لپاره نورو ته په تمه پاتیږي او هیڅکله خپله اراده پېژندلای نه شي.

نوره مو خوښه خپله.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ